ناشر و نویسنده: دستگیر روشنیالی
تأریخ: ۲۰۱۴/۰۷/۱۹

# ژوند له نه بدلیدونکو ذهنونو ډیر پیاوړی دی.

## ځوان نسل نه باید د روشنګري په وړاندي د جهالت د جګړي برخه وي.
## ځوان نسل، د نویو اندیښنو نسل.

ځوان نسل د ځوګونو تضادونو، جګړو، شخړو. بي شمارو ستونزو سره لوی شوی نسل دی. دي حالت دا نسل په مادي او ذهني برخوکي په کلکه متأثر او ستړی کړی دی. دا بي له شکه له ستونزو ډکه چاره ده او پراخ کارغواړي چي ځوان نسل د منفي فکرونو، عقدو، کینو، احساساتو، رواني فشارونو... له اسارت وژغول شي. د افغانستان بری له تعصب د ځوانانو په ژغورلو کي دی. تعصب هم بالفعل او هم بالقوه یو لوی ړنګونکی خطر دی.

همدا شان د وروستیو لسیزو بلواګانو، انقلابونو، جګړو، یو په بل پسي بحرانونو... ځوان نسل له بي شماره **"څه باید وکړو"** او د **"ولې"** له پوښتنو سره مخامخ کړی دی او ورته د ځواب ویلوغوښتنه کوي. ځوان نسل د وروستیو لسیزو پیښي له یاده نه و باسي. د دوي او راتلونکو نسلونو بري به دا وي چي د دي پیښو په یادولو سره د هغوي د تکرار مخه و نیسي او د موږ دنده داده چي ځوان نسل ته د خپلو تیروتنو، خپلو خطاګانو، خپلو نیمګړتیاو، خپلو ناکامیو او خپلو بي وسیو ... په ویلو سره هغوی ته د دی امکان ورکړو چی راتلونکي په سمه توګه ترسیم او موږ ته ورته تیروتني تکرار نه کړي.

ځوان نسل د دواړو کین او ښی له سطحی خیږونو او په بیړه قضاوت کولو زده کولاي شی. دوي د نورو د ملامتولو په کار کي خورا پیاوړي دي. خو د هغه څه په لیدلو کي چي شاوخوا یي تیریږي بي وسي ښیي. دوي سره د دي چي په همدي وطن او په همدي سیمه کي لوی شوي دي. تر اوسه یي د دي وس نه دی پیدا کړي چي د پیښو او تحولاتو تل ته ورننوزي او یو ریالستیک تحلیل وړاندي کړي. دوي د پیښو ظاهر ویني او هڅه کوي چي په خپلو ساده او افراطي شعارونو د خلکو ذهنونو بدل کاندي. همدا شان دوي د خپلو فکرونو او چلندونو په بدلولو کي هم پاتي راغلي. دواړه ښی او چپ افراط فکري خپلواکی ته د شک په سترګه ګوري او هغوي چي د دوي په شان نه وي ورته "مزدور" "وابسته" "تړلی" ... ښکاري. د افغانستان تجربه ښیي چي له چپه ښی ته او له ښی چپ ته بدلیدل ساده کار دي. خو له دي دو د خپلواک فکر په لور بدلیدل خورا مشکل کار دی.

دوي خپلو خطګانو اوتیروتنو ته د هغي جامي په سترګه نه ګوري چي له تنه لري کیداي شی. دوي په همدي جامه کي د پاتي کیدولو اراده لري او غواړي دنیا هغه شان وي چي دوي یي غواړي. دوي همدا اوس له یو بل سره د پرون په انتقام اخستلو لګیا دي هغه پرون چي هیڅکله بیا نه راګرزي.  ښه دی دوي به له خپلو فکرونو سره په پرون کي پریږدو. خو د ژوند کولو راز له بدلونونو او زمان سره د ځان په عیارولوکي دی. ژوند له نه بدلیدونکو ذهنونو ډیر پیاوړی دی.

د هغو ځوانانو شمیر هم کم نه دی چي د ټولني له موجودو جوړښتونو سره یي عادت کړی او د بدلونونو په وړاندي مقاومت کوي او تر اوسه په دي نه دي قانع شوي چي په عمل کي همدي جوړښتونو ټولنه په کلکه کمزوري کړي او د پرمختګ په لور یي خنډ دي.

## لیږد " ګذار" د نفي کولو، نابود کولو او شلیدولو په معني نه دی.

افغانستان د یوه سخت او ځوګوني اقتصادي، ټولنیز، سیاسي، فرهنګي او فکري لیږد "ګذار" په حالت کي دي. د ژوند هره برخه په بدلیدو دی او ټول هغه څه او په ځانګړي توګه هغه څه چي د ټولنې په سیاسي ژوند کي واقع کیږي د همدي لیږد "ګذار" نښاني دي. لیږد یوازي د یوې وروسته پاتي ټولني ځانګړتیا نه دي. پرمختللي ټولني هم لیږد ته ضرورت لري. دا ډول ټولني بدلون منونکي دي او د یوه نوي لید او نوي تفکر په درلودلو سره د یوې نوي راتلونکي په لور حرکت کوي. خو د افغانستان په شان په یوه ټولنه کي د راتلونکي په لورلیږد سخت، پیچیلی او زیاته قرباني غواړي. همدا اوس اوس ټولنه د لاندي سختو لیږدونو په درشل کي دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

ــــ له جګړې د سولې په لور ليږد.
ــــ له استبداد د دموکراسي په لور ليږد.
ــــ له قوميت د ملت کېدلو په لور ليږد
ــــ له دوديزې او سنتي ټولني، د يوې مدرني ټولني په لور ليږد.
ــــ له شی د څوک په لور ليږد. له ښځې سره د څوک په ځای د شی په شان چلند کيږي.
ــــ له کرکي، تعصب او کينې د پوهاى، باور او زغم په لور ليږد.
ــــ له خرافاتو او افسانو د خپلواکې انديښنو په لورليږد.
ــــ له دروغو، غلا اوغولولو د صداقت او رښتيولی په لورليږد.

سره د دي چي دا پورته هر يو ليږد ساده او په کمه بيه نه تر سره کيږي، خو پاتي را تلل به يي نه يوازي يوه ټولنيزه ټمبلي وي، بلکي افغانستان به د يوې بدليدونکي نړۍ برخه نه وي او سبا به بايلی. هره ټولنه بدلون ته ضرورت لري. بدلون ټولنه په حرکت کي ساتي او د ټولني دواړه مادي او معنوي حرکت په بدلونونوکي پيږندل کيږي. انتخابات يو حرکت او يو بدلون وو چي له موږ سره يي د خلکو د پيږندنی په کارکي مرسته وکړه.

## ځوان نسل د زماني غوښتني ومنی او راتلونکي ته ځان چمتو کړي.

ځوان نسل بايد ځان د هغوي له منځه را وباسي چي کلنو او لسيزي همداسي کرل شوي پاتي کيږي. نن په ټولنه کي د دي پياوړي نښاني شته دي چي ځوان نسل له آرماني هدفونو ځان را باسي او په اسانه په آرماني هدفونو پسي نه ځي. په ځوان نسل کي عاقلانه چلند وده کوي او ورستي سياسي تحولات او په ځانګړي توګه انتخابات د دي خبري روښانه ثبوت دی. د ځوان نسل سياسي ليد خورا پياوړی دی. د دي نسل سياسي شعور په چټکه توګه وده کوي او ورسره د دي ضرورت را منځ ته شوي چي دا وده له قوميت، مذهب، سمت ... خپلواکه وي. که د سياسي شعور وده خپلواکه نه وي ډيري بدي پايلي درلودلاي شی.

ځوان نسل، د ما د نسل په شان دا او هغه ايديولوژي ټولو ستونزو ته ځواب نه بولي. پرون موږ خپل چلند دعقل په ځای د يوې ايديولوژي په بنياد پيل کړ. آرماني هدفونه مو درلودل، شعارونه مو ورکول، نه پخلاکيدونکي مبارزه موکوله، دسيستم د بدلولو په ځای مو د هغه د ړنګولو غوښتنه کوله، له زور، کودتا، انقلاب، نفي کولو، وژلو... پرته مو بله لاره نه پيژندله. موږ په بدلون او رفرم نه پوهيدو د سيستم انحلال او يا هم د سيستم چپه کول مو شعار وو.

## ښه نيت او بد عمل.

نيت مو د ښو کول وو، خو په عمل کي له ډيرو بدو را ووتو. اوس پوهيږو چي د قضاوت معيار د نيت په ځای عمل دی. زه فکر نه کوم چي تأريخ به د ما له نسل سره په مهرباني چلند وکړي او دا امکان شته دی چي تأريخ ووايي، "همدي انقلابی نسل افغانستان برباد کړ"طبعاً موږ هغه نسل نه يو چي افغانستان ته مو ثبات او نيکمرغي راوړي او تضمين کړي وي.

ځوان نسل هغه نسل نه دي چي ځلوويشت، پنځوس او شپيته کاله پخوا وو. دا د خلاقيت او ابتکار کولو نسل دی. دا د فرديت او استقلاليت نسل دی. دا د ايديولوژي په ځای د پراګماتيزم نسل دی او د خيالونو او آرمانونو په ځای د عقلی ليد او د تجربوي چلند نسل دی.

ځوان نسل د تکنولوژيکي چټکو اړيکو د پراختيا او پرمختګ نسل دی. همدا پرمختګونو دي چي ټولنيز، کورنی او فردي ژوند بدلوي او ځوان نسل ته يي د دي پراخ امکانات ورکړي چي خپله پوهه زياته او په ټولنيز او سياسي ژوند کي خپله ونډه پياوړي کړي. دنيا هره ورځ بدليږي او په هميشنی تحول کي دی که ځوان نسل په دي بدلونونو کي د ګډون په ځای يوازي د هغوي تماشا کونکی وي بي له شکه به راتلونکي وبايلي. نن ځوانان د پرون کليوالی، قبيلوي، محلي ... ذهنيت په خلاف په نړيوال ذهنيت کي ژوند کوي.

## له ايديولوژيک ښوونځيو د ځان ژغورل.

د ما د نسل تر ټولو لويه بدمرغي او ناکامي دا وه چي په پراخه پيمانه د ايديولوژيګانو ښکار شو. دي نسل هم له شماله او هم له جنوبه د افراطي فکري توفانونو په وړاندي ښکاره کمزوري وښودله. دي دو فکري ښوونځيو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

افغانستان ته له یوې خوا د پورته او کښته طبقو او له بلې خوا د اسلام او کفر په بنیادونو نوی ټولنیز ویش، نوی تعصب او نوې دوښمني راوړل او په دواړو سیاست او سیاسي فرهنګ کې د زور عنصر په نوې بڼه اولویت پیدا کړ. همدې دو فکرونو د افغانستان راتلونکي ټاکله. ملت، ملت پالنه، وطن، وطنپالنه ... پاتې شول. ښکاره بیګانه پالنه پیل شوه او دواړو هڅه کوله د زور له لارې واک تر لاسه کړي او په ټولنه خپلې نظریې تحمیل کړي او همدا هڅې د دې اوږدې غمیزې لامل شوې چې تر اوسه هم ادامه لري.

د ځوان نسل برې په دې کې دی چې ځان له ایدیولوژیکو ښوونځیو وژغوري او له ناکام فرهنګ ځان را وباسي. دې فرهنګ خپله فرهنګي ځانګرتیا له لاسه ورکړې او دیوې توتالیتر ایدیولوژي په بڼه عمل کوي او هره ورځ د انسانانو قرباني غواړي.

ځوان نسل باید د دودونو، زړو عادتونو له جبره، کوم چې کرکه، زور او توهین توجیه کوي ازاد شي تر څو د خپل ژوند او خپلې راتلونکي په هکله د انتخاب کولو حق ترلاسه کړي او انتخاب وکړي. دا حیوانات دي چې انتخاب نه کوي. انسانان انتخاب کوي او انسانان باید د انتخاب کولو ازادي ولري. دولتونه دنده لري د ځوانانو د انتخاب حق خوندي او ساتنه يې وکړي او ځوان نسل په دې پوه وي چې د ازادی او د انتخاب د ازادي ترلاسه کول د مسؤولیت منل هم دی.

ځوان نسل د دواړه ازادي او پرمختګ هیله ده او د پوهې او ابتکار کولو نه تماميدونکي ځواک دي. ځوان نسل د مدني ټولني او انساني فرهنګ د ایجاد او ودې له کار سره مرسته وکړي او په دې هکله د دواړو تأریخ او خلکو په وړاندې ډیر درونډ مسؤلیت لري.

## د هیلو د پلي کولو ځای په راتلونکي کې دی.

ځوان نسل په نن ډاډه او په راتلوکي باور ولري. که نن ډاډ او په سبا باور نه وي. پرون اهمیت پیدا کوي. په بل عبارت که ځوان نسل په راتلونکي او سبا باورله لاسه ورکړي په طبعي توګه به خپله نیکمرغي په پرون کې لټوي او دا شا ته ګرزیدل دي. که نن بحراني وي، که نن جګړه وي او راتلونکي هم روښانه نه وي، پرون نه یوازي اهمیت پیدا کوي، پرون نه یوازي د الهام په منبع بدلیږي، بلکې پرون د لارښووني رول هم ترلاسه کوي. پرون هغه وخت بې اهمیته کیږي چې نن ژوند نیکمرغه، سوله ایز او په ټولنه کې ثبات موجود وي. په دې ډول یوه حالت کې نه پرون دالهام په منبع بدلیږي او نه څوک خپله نیکمرغي په پرون کې لټوي.

ځوان نسل نه باید په بې خبري او بې تجربګي کې د پرونیو او د موږ پیروي وکړي. پیروي او تقلید کول وړکتوب ته د انسان په شا ورګرزیدل دي. واړه باید د لویانو پیروی او تقلید وکړي. په پیروي کولو او تقلید کې نه د شک کولو او نه هم د انتقاد کولوځای شته دی. شک کول د دواړو عقل او علم بنیاد دی او د دی دو کار په شک کولو سره پیل کیږي. شک او انتقاد کول همیشه د سنجش ډاډ من معیارونه دي.

## ځوان نسل د بت جوړولو نسل نه دی.

ځوان نسل نه باید د طوطیانو په شان د نورو خبرې او د نورو چلند تکرار کړي او خپل ځوان تفکر او ځوان ذهن د نورو له خبرو او حکمونو سره وتړي او له هغوې بتان جوړ کړي چې سبا به يې په خپله ړنګوي. پرون موږ همداسې وکړل یو په بل پسې مو بتان جوړل کړل، ورته سندرې مو وویلې، ورته اټنونو مو وکړل، ورته اوږده نومونه او لوی لوی القابونه مو ورکړل او خپلې هیلې او راتلونکي مو په هغوی پورې وتړلې او هغوي هم بې له معطلې موږ په خپلو یرغملو بدل کړو. خو ډیر ژر موږ دې ته اړ شو چې خپل جوړ شوي بتونه په خپله ړنګ کړو. لښکرو هم خپله جوړه شوي سره مانې په خپله ړنګه کړه.

له بده مرغه نن هم د بت جوړولو زیامن دود شته دی. دا ډول چلند دځوانانو د فکرکولوځواک زیانمن کولاې شی. که ځوانان د خپلو فکرونو په ځای یوازې په تکرارونو لګیا وي نه یوازې فکري ځواک او فکري خپلواکې له لاسه ورکوي، بلکې د خپل هویت او شخصیت جوړولو چاره هم نورو ته سپاري. ځوانان د خپلواک تفکر او ابتکار په لرلو سره په ټولنیز ذهنیت کې ونډه اخستلاې شی او هغه ته لوری، نوی لوری او سم لوری ورکولاې شي او همدارنګه کولاې شي ټولنه د بې تفاوتي او انتظار له حالته را وباسي.

## ځوان نسل او ټولنه.

ټولنه نه باید د ځوان نسل د غوښتنو او اندیښنو په وړاندې غلي پاتي شي. په دې هکله د غلي پاتي کیدو معني له راتلونکي ژوند سره بې پروايي دی. د ژوند نیکمرغه کول له موږه غواړي چې ټول پام ځوان نسل او راتلونکو ته



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

وي. ځوان نسل ته د مذهبي او قومي کرکو، د وژلو او مرگ په ځای د ژوند کولو او يو د بل د منلو درس ورکړل شي او د راتلونکي په هکله په هغوي کي اميد ايجاد شي.

د ځوان نسل غوښتنو اوانتظارونو ته موجود وروسته پاتي سنتي واکمن جوړښتونه او ارزښتونو ځواب نه دي. دا ارزښتونو د حل په ځای بحران جوړونکي دي. دا ارزښتونه له دواړه پرمختگ او نويوالی سره په جگړه کي دي. دا ارزښتونه ځوانان له دواړو زماني او دنيا بيگانه کوي او له زماني اودنيا بيگانگي له ژوند بيگانگي دی. د يوې بيلگي په توگه موږ نږدي هره ورځ ددي ډول بيگانيگي شاهدان يو او د ځان په تباه کولو سره لسگونه بی گناه انسانان، ښځې او ماشومان هم تباه کوي.

د ځوانانو د غوښتنواو د هغوي د استعدادونو د ودي او پراختيا امکانات هغه وخت منځ ته راځي چي په ټولنه کي د موجود ذهني استبداد او عقلی خلا په ځای يو فکری نظام واکمن شي چي ابتکارونو، نويوالی او خلاقيت ته لاره پرانيزی او له ستونزو اوپرابلمونو سره د عقل په بنياد چلند وشي. د چلند عقلی کول د احساس او عواطفو او د هغوي د زور او تاثير نفي کول نه دي، خو د سنجش کولو لاره له عقله تيريږي.

ځوان نسل د نن او راتلونکي ځواک دی او دا خپلواک او مثبت فکر دی چي په ځوانانو کي د راتلونکي په هکله هيلي او اميدونه ايجاد وي. هيلې او اميدونه د راتلونکي له پاره دي او همدا هيلې او اميدونه دي چي ځوانانو ته ځواک ورکوي او ځوانان د همدې هيلو او اميدونو په اساس خپلې راتلونکي تگلاري جوړوي. هيلې او اميدونه په ځوانانو کي د خلاقيت پياوړي انگيزي پيدا کوي اوانگيزي بايد واقعي وی او دلته دی چي رياليزم دواړو خپلواک او مثبت فکر ته لاس ورکوي.

## مثبت فکر

سره د دي چي موږ هره ورځ بد، د وژلو، د ړنگولو اوسوځولو، د انسانانو د ځرولو، د انسان په حقونو او آزاديو د يرغلونو، د ښځو د پزو، شونډو، گوتو، غوږونو د پريکولو... خبرونه آورو او په افغانستان کي له دريو لسيزو زياته موده کيږي چي دا ډول خبرونه اوريدل کيږي. دا بي له شکه د ميليونونو انسانانو فکرونه او چلندونه متاثيرکوي، ذهنونه يي مصروف ساتي او په طبعي توگه دا حالت که له يوې خوا هر چا ته سخت او آزار ورکونکی دی او له بلي خوا په پراخه اندازه د عقدو، کينو، دوښمنيو، رواني فشارونه او منفي تفکر له ايجاد سره مرسته کوي.

منفي فکر د احساس او عقل تر منځ تعادل له منځه وړي او دواړو پيږندنه اوچلند زيانمن کوي. پوښتنه داده، په دا ډول يوه سخت حالت کي څه ډول کيداي شي په منفي تفکرغلبه وشي، د احساس او عقل تر منځ تعادل را منځ ته شي او د پيښو په وړاندي عقلانه چلند او خپلواک قضاوت وشي او په سم لوری د ټولني لارښوونه وشي.

## مثبت تفکر له کرکي، تعصب او کيني د ژغورولو ښه لاره ده.

له تعصبونو، کينو، عقدو او دگمونو خلاص فکر مثبت فکر دی او مثبت فکر د هدف د رسيدو په لور د انسان فهم او اراده پياوړي کوي او د هدف په لور د هغه حرکت ته ځواک او قوت ورکوي. انسان د خپلواک او مثبت فکر پوسيله په ډاډمنه توگه کولاي شي د نورو په منځ کي خپل فرديت وښيی، د يوه شخصيت په توگه را څرگند شي، له گوښه والی را ووزي او په خپلو احساساتو، تعصبونو اوکينو غلبه وکړي. مثبت فکر په انسان او د هغه په چلند ډيرلوی تاثير لري او رښتيا هم په مثبتو کلمو او عبارتونو کي څومره لوی قوت شته دی او منفي کلمات او عبارتونه څومره ځورونکي او څومره ړنگونکي دي. مثبت فکر جوړونکي او انگيزه پيدا کونکي فکر دی. بي انگيزو ژوند يو تمبل او بي حرکته ژوند دی. مثبت فکر په ځان د باور درلودلو سبب کيږي او د نويو انديښنو او نظريو په ايجاد کي مرسته کوي.

## اميد، عقل او عمل.

يو هوشيار رومي وايي: "تر څو چي ژوند وي اميد به هم وي" اميد د ژوند نه بيليدونکي برخه ده. اميد مثبت شی دی او يو شمير پوهان اميد د ژوند کولو او پرمختگ "محرکه قوه" بولې او د اميد په کار کي د عقل او عمل په عنصرونو ټينگار کوي. که عقل د اميد لارښوونه و نه کړي او عملي نشي يو بي مفهومه شی دی. اميد په عمل تکيه کوي او عمل فکري پشتواني ته ضرورت لري. که عمل فکري پشتوانه و نه لري يو بي هدفه عمل دی او پايله يي هم ماتي ده. بي فکره عمل ، په يوه لويه دښته کي حرکت ته پاتي کيږي چي لوری يي معلوم نه وي. افسانوي او


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

آرماني اميدونه نه يوازې په عقل تکيه نه کوي، بلکي د افراط، تباهي، ځان وژنو، سوزولو، ړنګولو او وژلو په لور د ځوانانو لارښوونه کوي.

**هو، قدم په قدم او په سم لوری.**

دا ډېره معقوله او منطقي خبره دي چي ټولنه او ټولنيز ژوند د پرمختګ او ودي په لور د "**شليدلو" "نفي کولو" " محوه کولو"** په ځاي په "**پيوستون"** کي قدم په قدم بدل شي. خو دا هم په ياد ولرو چي د هر قدم پورته کول د منزل په لور د نږدي کيدلو او رسيدلو په معني نه دی. يو شاګرد ښوونځی ته په ننوتلو سره نه ډاکتر کيږي او نه هم انجينر کيږي. شاګرد بايد قدم په قدم له ځومرحلو تيرشي ترڅو ډاکتر، انجنير ...شي.
د قدم پورته کولو او يا هم د حرکت کولو له پاره د هدف ټاکل ضرور دی، کوم چي حرکت ته لوری ورکوي او دا د "جبر" او "تقدير" په ځای د وګړی او وګړو کار دی چي هم هدف وټاکي، هم د هدف په لور د حرکت لارښوونه وکړي او هم هدف ته د رسيدو وسيلي او امکانات برابر کړي. تجربه وايي چي دا هدفونه او دهدفونو ټاکل دی چي ژوند ته انګيزه ورکوي او انسانان د هغوی په شاوخوا را ټولوي. د هدف ټاکلو په کارکي انديښنه او عمل، بحث، استدلال کول، انتقاد کول، بيا او بيا توجيه کول هم شته دي. کله چي د هدف عقلي توجيه نه وي دليلونه او استدلال هم ختم کيږي او کله چي استدلال او دليل نه وي هدفونه هم آرماني کيږي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ